ډاکټر ش میره کی

۲۰۲۶/۰۹/۲۳

# د ورزشکارانو لپاره طبي سپارښتنه

**پاملرنه !**ځوانو ورزشکارانه د تاسو څخه هیله لرم څه لاندې د ما سپارښتنه یو ځلې ولولي

زه د روغتیایي پوهاوي په توګه ټولو هغو ځوانانو او ورزشکارانو ته سپارښتنه کوم چې د بدن د ښکلا او عضلاتو د پیاوړتیا لپاره له بېځایه او خطرناکو کیمیاوي موادو څخه استفاده ونه کړي. په ځانګړي ډول له هغو موادو څخه چې بې له طبي څارنې کارول کېږي؛ لکه:

**Anabolic Steroidsانابولیک سټیرویدونه** — (مصنوعي هورموني مواد چې د عضلاتو د زیاتولو لپاره کارېږي.
**Testosteroneټیسټوسټیرون** — (نارینه جنسي هورمون؛ د ډاکټر له نسخې پرته یې کارول خطرناک دي.
**SARMs – Selective Androgen Receptor Modulators** — داسې مواد چې د عضلاتو د زیاتولو په موخه بازار مونډل کېږي، خو د خوندیتوب په اړه یې جدي اندېښنې شته.
**● Growth Hormone / HGH د ودې هورمون** — (د بدن طبیعي هورمون دی، خو بېځایه استعمال یې روغتیا ته زیان رسولای شي.
**● Stimulants محرک مواد** (او نامعلوم **Pre-Workout** محصولات — ځینې یې د زړه درزا، د وینې فشار او خوب باندې ناوړه اغېز کولی شي.

**ولې باید له دې موادو څخه ځان وساتو؟**

ځکه چې د عضلاتو د ژر غټېدو په بدل کې ممکن د بدن مهمو برخو ته زیان ورسوي؛ په ځانګړي ډول:

– **Heartزړه :**د زړه د درزا او وینې فشار ستونزې او د زړه د ناروغیو خطر زیاتولی شي.

– **Liver**: **ځیګر :** ځینې درمل او غیرمجاز عضلاتي مواد د ځیګر د زیان سبب کېدای شي.

– **Kidneys**: **پښتورګي :**ځینې مواد او د هغوی ناسم استعمال د پښتورګو فعالیت اغېزمنولی شي .

– **Reproductive system** : **د تناسلي او تولیدي سیستم :**د هورموني موادو ناسم استعمال د طبیعي هورمونونو توازن ګډوډولی شي او په نارینهوو کې د سپرم کمېدو، د خصیو د کوچني کېدو او د جنسي/تولیدي ستونزو لامل کېدای شي.

نو، ځوانانو ! د خو میاشتو د ظاهري عضلاتو لپاره خپل راتلونکی روغتیايي ژوند مه خرابوه. **طبیعي او دوامداره پرمختګ تر چټک او خطرناک پرمختګ ډېر مهم دی.**

**نن درته یوه ساده او سالمه سپارښتنه لرم؛ څه «هم ثواب شي او هم خرما»!**

که غواړې عضلات دې په سالم ډول قوي شي، پر دې څلورو بنسټونو تمرکز وکړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**۱. منظم مقاومتي تمرین (Resistance Training) :**
د وزنونو او یا د خپل بدن د وزن تمرینونه په منظم ډول ترسره کړه او بیا یې ورو ورو زیاتوي .

**۲. کافي پروټین (Protein) :**
هګۍ، شیدې او مستې، غوښه، چرګ، کب، لوبیا، عدس او نور مغذي خواړه د عضلاتو د جوړېدو لپاره مهم دي.

**۳. کافي اوبه او متوازن خواړه :**
یوازې پروټین بسنه نه کوي؛ بدن کاربوهایدریټونو، صحي غوړو، ویټامینونو، منرالونو او اوبو ته هم اړتیا لري.

**۴. کافي خوب او استراحت :**
عضلات یوازې د تمرین پر مهال نه جوړېږي؛ د استراحت او خوب پر مهال بدن د عضلاتو د رغولو او جوړولو پروسه ترسره کوي.

**مهمه خبره :**

هر هغه پوډر، ګولۍ، انجکشن یا کپسول چې ادعا کوي **«په ډېر لږ وخت کې عضلات څو برابره کوي»**، باید په احتیاط وکتل شي. د محصول پر لیبل لیکل شوي معلومات هم تل د کیفیت او خوندیتوب ضمانت نه وي.
که څوک غواړي **Creatine (کریټین)**، **Protein Powder (پروټین پوډر)** یا بل ورزشي مکمل استعمال کړي، غوره ده چې د عمر، روغتیا، درملو او د روزنې د هدف له مخې له ډاکټر، سپورټي تغذیه‌پوه یا مسلکي روغتیايي کس سره مشوره وکړي.
**اصلي قوت یوازې په لویو عضلاتو کې نه دی؛ اصلي قوت په سالم زړه، سالم ځیګر، سالمو پښتورګو، متوازن هورمونونو او اوږدمهاله روغتیا کې دی.**
**ځوانانو! خپل بدن د لنډمهاله ښکلا لپاره مه قرباني کوئ؛ په علم، تمرین، سالم خوراک او صبر سره یې جوړ کړئ.**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ